# په لوګر کې دمور نړیوالې ورځې؛ څخه یادونه وشوه

دجون څوارلسمه چې دغبرګولې ۲۴مې نیټې سره سمون خوري دغه ورځ دمورنړیوالې ورځې په نوم دنړۍ په ټولو هیوادونو کې لمانځل کیږي.

نوموړې ورځ په لوګرولایت کې دښځوبڼ دغونډو په تالارکې دغبرګولې په درویشتمه ولمانځل شوه.

دغه غونډه دنوروکلونو لمانځغونډې سره توپیر درلود، پدې چې په دغه لمانځغونډه کې دهغه سرتیرو چې دهیواد نه ددفاع په حالت کې خپل زامن اومیړونه له لاسه ورکړي ؤ، دلوګرنوي والي په نوښت هغه شهیدانو ته د درناوي په موخه دهغوی میندې اویاخویندې راغوښتل شوې وې.

په دې لمانځغونډه کې دلوګر مرستیال والي فیض محمد میرزا زاده په ګډون دولایتي شورا رئیس حسیب الله ستانکزي، دښځوچارو رئیسې شمیا زرګر، ځیني دولتي ادارو رئیسانو، ګڼ شمیر میرمنو او دولایتي شورا غړیو برخه اخیستې وه.

دولایت مرستیال فیض محمد میرزا زاده دمور نړیوالې ورځې په اړه دهیواد ټولو اوپه ځانګړې ډول دلوګرمتدینو اوقدرمنو مورګانو ته دمبارکي ویلو ترڅنګ دهغوی په زحمتونو، چې څنګه له خپلو ماشومانو سره تکلیفونه باسي، رڼایي واچوله.

دلوګرمرستیال فیض محمد میزرا زاده دغونډې ګډونوالو ته وویل، تاسې میندې یاستئ، چې اتلان مو په خپله غیږه کې لوی کړي او روزلي دي، په دغو اتلانو دولتي اراکین نه بلکې ټول ولس پرې ویاړي، چې دا ویاړ تاسو لپاره دی.

همدارنګه غونډې ته دولایتي شورا رئیس حسیب الله ستانکزي، دښځوچارو رئیسې شیما زرګر، دولایتي شورا غړې نفیسې هجران او نورو میرمنو خبرې او دمیندو په اړه چې دوی په څو لسیزو جنګ اوجګړو کې بې شمیره تکلیفونه ګاللي او زیاتره میندو په جنګونو کې خپل ماشومان اومیړونه له لاسه ورکړي دي ورنه یادونې وکړې اودمور په سترمقام اومنزلت چې دوی یې لري هریو دخپلو ویناو په لړکې دهغوی ستاینه او په میړانتیایي، چې دخپلو ماشومانو سره بې شمیره زیارونه ګالي او دوی باید چې نن دخپلو میندواو مورګانو درناوی او دقدر کولو توصیه وکړه.

دغونډې په ورستیو شیبو کې دولایت مقام له لورې دشهیدانو میندو ته سوغاتونه او څه اندازه نغدې مرستې وشوې په پای کې دهیواد میندو ته ددرناوي په ویاړ څو قطعي ترتیب شوي شعرونه دغونډې ګډونوالو ته واورول شول اویاده غونډه هیواد ته دسولې راوستو په دعاییه ویلو سره پای ته ورسیده.

## په لوګرکې دسید جمال الدین افغان دخصوصي انیستیتوت دروغتیایي علومو محصلینو دفراغت جشن ولمانځل

په لوګرکې دسید جمال الدین افغان د روغتیایي خصوصي انیستیتوت، دویمه دوره محصیلینو خپل دفراغت جشن د غبرګولې په ۱۸مه دیوې شانداري غونډې په جوړیدو دښاروالۍ په تالارکې ولمانځل.

په پیل کې دسپیڅلې قران تلاوت وشو، ورپسې محمدعظیم فاروقي دنوموړې انیستیتوت رئیس؛ ټولو راغلوګډونوالوته ښه راغلاست او فارغ شوو محصلینوته دفراغت مبارکي ویې ویل.

فاروقي د سید جمال الدین افغان دخصوصي روغتیایي انیستیتوت په لنډه توګه ناستوکسانوته معلومات وړاندې کړل. دې لمانځغونډې ته لوګروالي محمد حلیم فدایي، داطلاعاتو اوفرهنګ رئیس محمد شفیق پوپل، دعامې روغتیا رئیس ډاکټرمحمد ظریف نایب خیل او څوتنه دسید جمال الدین روغتیایي انیستیتوت استادانو خبرې وکړې. لوګروالي محمد حلیم فدایي دخپلو ویناوو په لړکې دمحصلینو فراغت دوی او کورنۍ ته یې دمبارکي ویلو ترڅنګ غوښتنه وکړه، چې دټولنې دخدمت لپاره خپل اخیستې پوهه پرځای وکاروي.

همدارنګه لوګروالي دعلم اوزده کړې پراهمیت خبرې وکړې زیاته یې کړه، چې افغانان نن پوهې او زده کړې ته اړتیا ویني، ځکه دوی د څولسیزو جګړو څخه ستړې شوي او دپرمختګ لورې ته ځانونه هڅوي.

محمد حلیم فدایي په هغه کسانو چې دهیواد په ورانیو او ویجاړیو کې لاس لري، غبرګ وکړ؛ چې د ټوپک پرځای قلم وکاروي، ترڅو دوی هم په سوکاله، آرامه او پرمختللې ټولنه کې ژوند پرمخ بیوزي.

محمد حلیم فدایي دښاراوچاپیریال په پاکوالې او نظافت په مراعتولو کې زیات ټینګار هم وکړ. داطلاعاتو اوفرهنګ رئیس محمد شفیق پوپل دمحصلینو دجشن لمانځغونډې ته دخبرو کولو وروسته دفارغ شوو محصلینو څخه غوښتنه وکړه، چې دخپل روغتیایي مسلک پرمخ وړلو کې له پوره دقت، پوهې او دروغتیایي قوانینواو وصولو څخه کار واخیستل شي او دناروغانو درملنه په سمه توګه وکړي.





پوپل دا هم زیاته کړه، چې تنها په دوه کاله انیستیتوت ویلو فارغ شوي محصلین ښه او د وړ خدمات ټولنې ته نشي وړاندې کولای، ځکه ترڅو دوی په خپلو څانګو کې تخصص اویا خپلې زده کړې لوړې نکړي. ډاکټرمحمد ظریف نایب خیل دعامې روغتیا رئیس دخپلو ویناوو په ترڅ کې څرګندونه وکړه چې: دا په لوګرکې د روغتیایي علومو لومړنی خصوصي انیستیتوت دی، چې دفراغت په دویمه دوره کې ۷۰ تنه نارینه اوښځینه محصلین دفارمیسي، لابراتوار او قابلګۍ په څانګو کې روزي.

د نایب خیل دخبرو له مخې؛ دفارغ شوو محصلینو څخه د دولتي آزموینې تراخیستو وروسته په دندو وګمارل شي.

دمراسمو په پای کې فارغ شوو محصلینوته دکاري مسلک پرمخ وړلو سوګند او د دوی دفراغت باورلیکونه هم ورکړل شول.

## ریاست اطلاعات وفرهنگ درعرصه کاری خویش جوابده به تمام باشندگان لوگر میباشد:

دراین اواخردیده میشود بعضی اشخاص که تازه به قلم وکاغذآشنایی پیداکرده ومفهوم آنرا درست نمیداندوکلمات بی مفهوم که درمغزشان خطورمی کند، سفیدي کاغذراباکلمات ناپسندیده خویش سیاه کرده وبعضی ادارات را موردتهدیدقرارمیدهد.

ریاست اطلاعات وفرهنگ باوجودمشکلات بودیجوی حاضراست به تمام مردم وباشندگان لوگردرعرضه خدمات به بسیارخوشی جواب گومیباشدچراکه ذلت وعزت به دست خداوندج است.

به نوشته های بیهوده چیزی اصول نمیشودبدون ازضایع وقت. خوب است که اشخاص فوق الذکرمستقیم به اداره اطلاعات وفرهنگ جهت کسب معلومات بیشترمراجعه نمایند.

## په لوګرکې د ښوونځیو څلورنیم میاشتنۍ آزموینه پیل شوه

دلوګر مرکز او ولسوالیو په ګډون د ښوونځیو له زده کوونکو څخه د څلورنیم میاشتنۍ آزموینې د اخیستلو لړۍ دچنګاښ په لسمه پیل شوه.

دلوګرد پوهنې ریاست د نوموړې آزموینې د اخیستنې لړۍ د پوهنې وزارت د پریکړې له مخې پیل کړه، چې د روانې میاشتې تر۲۵ مې نیټې پورې به دوام وکړي. دپوهنې ریاست ویاند محمد شاه پور عرب دلوګرجریدې خبریال ته وویل: د لوګر په سږنې څلورنیم میاشتني ازموینه کې ټول ټال ۱۲۲۲۲۴ تنه زده کوونکي به برخه ولري، چې له دې جملې څخه ۳۵۲۸۵ تنه یې نجونې دي. عرب زیاته کړه، چې د دغې آزموینې د څارنې لپاره د ښوونیزې څارنې او ارزونې ټول غړي پر ښوونځیو ګمارل شوي ترڅوآزموینه په رڼه او شفافه توګه واخیستل شي.

دعرب په خبره: د پوهنې وزارت د لارښوونې له مخې د دغې آموزینې تر اخیستنې وروسته دلوګرټولو ښوونځیو ته به د دوبې لس ورځنۍ رخصت ورکړل شي.

## اطلاعیه ریاست حفاظت محیط زیست لوگر

ریاست حفاظت محیط زیست لوگربا درنظرداشت حفاظت محیط زیست ازعموم هوتل داران شهرپل علم میخواهدکه نکات ذیل را درنظر داشته باشد: جهت کاهش آلودگی هوا عموم هوتل داران مکلف اند الی اخیر ماه مبارک رمضان سیستم پخت وپزشان راتوسط گازمایع تبدیل نمایند، بدین وسیله به آگاهی تمام مالکین هوتل ها رسانیده میشود، تا مطابق اطلاعیه متذکره عمل نموده ازسوخت چوب وسایرمواد دودزا جلوگیری نمایند، درصورت تخلف ازاین تصمیم با متخلفین برخورد قانوني صورت میگیرد.

## اطلا عیه آمر یت فر هنگ و گر ځندوی ریاست اطلا عات و فر هنگ

ریاست اطلاعات و فر هنگ جهت منسجم نمودن و شنا سا یی تمام هنر مندان وفر هنگیا ن ولایت لوگر در نظر دارد که به سیستم دیتا بس ثبت و را جستر نما یند زیرا که همین قلم بدستان است که با فر هنگ قلم یک کشو ر را از تا ریکی ها به رو شنا یی تبدیل می کنند و نیز هنر مندان هم یک قشر پر افتخار و مهم در جا معه به شمار میرود بناٌ یک بار دیگر به تمام آنعده ا فراد و اشخاص اعم از طبقه ذکورو اناث که در عرصه شا عری، نویسندگی، ر سا می، خطا طی، تا لیفات، صنا یع دستی و سایر هنر مطا بق فر هنگ اصیل افغا نی مها رت و دسترسی داشته با شد از تا ریخ نشر اعلان الی ۱۵ یوم با دو قطعه فو تو وبیو گرا فی مکمل خویش جهت ثبت نام به آمر یت فر هنگ و گر ځندوی ریاست متذ کره مرا جعه نما یند.


لوګر Logar

دامتیازخاوند : دلوګراطلاعاتواوفرهنګ ریاست

مسئول مدیر: شیر محمد امیني «ستانکزی»

داړیکي شمیرې : ۰۷۰۷۲۴۴۲۲۸ /۰۷۴۴۴۲۶۴۲۸

کتنپلاوې : محمدشفیق «پوپل» ، امین الله «صفا» او محمد زاهد «سلطانی»

خبریال : محمدموسی " عدیل"

کمپوز او ډیزاین : امیني «ستانکزی»


برښنالیک : shir.stanikzai2@gmail.com